IslamHouse.com

مركز أصول Osoul Center



Download from:aghalibrary.cm

Pashto
پښتو

# د اسلام نواقض او دخلکو پوهاوی

ليکوال
عبدالعزيز بن عبد الله الراجحي

ژباړن
عبد الرحيم سلطان

Download from:aghalibrary.cm

Download from:aghalibrary.cm

# تبصير الأنام
# بشرح نواقض الإسلام

تأليف
عبدالعزيز بن عبد الله الراجحي
ترجمة
عبدالرحيم سلطان

PASHTO
بشتو

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


| | |
|---|---|
| دنواقض اسلام معنی | ۹ |
| د اسلام په نواقضو کې لمړی ناقض | ۱۱ |
| هغه احکام چې د شرک سره تعلق لری | ۱۲ |
| د اسلام په نواقضو کې دوهم ناقض | ۲۳ |
| د توکل معنی | ۲۵ |
| دریم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ۲۹ |
| د طاغوت پیژندنه | ۳۱ |
| خلورم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ۳۷ |
| پنځم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ٤۱ |
| شپږم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ٤٥ |
| اوم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ٥۱ |
| ناقض د اسلام په نواقضو کې | ٥۷ |
| نهم ناقض د اسلام په نواقضو کې | ٦۱ |
| لسم ناقض داسلام په نواقضو کې | ۷۳ |



الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

په دې رساله کې د اسلام هغه لس لوې نواقض کوم چې شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله په خپله رساله کې راجمع کړي دي بيانيږي.

## دنواقض الاسلام معنى:

نواقض جمعه ده دناقض او ناقض د يو شي دهغې باطلونکي او فاسدونکي او دمينځه وړونکي ته وايي، نو د نواقض الاسلام معنى ده هغه عملونه اوکارونه چې کله انسان د هغې مرتکب شي، نودهغې دوجې نه دانسان دين او اسلام باطل شي، او د دائره اسلام نه خارج شي، کافر اومشرک شي، مګرکه توبه وباسي اوبيرته په اسلام کښې داخل شي، ددي مثال داسي دى، لکه يو انسان چې پوره اوکامل اودس وکړي، اوپه طهارت کښې داخل شي اوبيا روستو دهغه نه متيازي وغيره خارج شي، نو دهغه اودس مات اوطهارت يې باطل شو، همدارنګه داسلام نواقض هم دي په دې معنى باندې چې کله انسان دهغې ارتکاب وکړي، نو ددين اسلام نه خارجيږي او په کفر شرک کې داخليږي.

امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله په خپله رساله كښي يواځې لس (۱۰) نواقض داسلام ذكركړيدي، ځكه چې دا لس لوې نواقض دي، دنواقض الاسلام نه، او نور نواقض داسلام په دي لسو (۱۰) نواقضو داسلام كښي راجمعه كيږي.

شيخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله خپله رساله (نواقض الاسلام) په دي عبارت سره شروع كړيده: **اعلم أن نواقض الاسلام عشرة!**

پوهه شه چه داسلام نواقض لس (۱۰) دي، اعلم دامر صيغه ده دعلم نه، معنى يي ده كلكه عقيده اوپوخ يقين كول او ددي په مقابل كښي ظن راځي دظن معنى ده ګمان كول.

نومعنى داشوه چه په دي پوهه شه اوكلكه عقيده اوپوخ يقين ولره شک اوګمان مه كوه په دي خبره كښي چې كله انسان ددي نواقضو مرتكب شي نو ددائره اسلام نه خارجيږي اومسلمان نه پا تي كيږي.

## الناقض الأول

# الشرك

داسلام په نواقضو کې لمړی ناقض د الله تعالی سره د هغه په عبادت او بندګۍ کې شریک جوړول دي، لکه د الله جل جلاله ارشاد دی:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء: ٤٨]

**ترجمه**: یقینا الله تعالی نه بخي چې شرک وکړی شي دهغه سره اوبخي هغه ګناهونه چه کم وي ددینه هغه چالره چه اوغواړي، اوچاچې شرک وکړو دالله تعالی سره پس یقینا جوړه یي کړه ګناه لویه.

او همدا رنګه الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ﴾ [المائدة: ٧٢]

**ترجمه**: یقینا چاچې شرک وکړو د الله تعالی سره پس یقینا حرام کړیدی الله تعالی په هغه باندې جنت او ځاي دهغه اوردی، اونشته دظالمانو لپاره هیڅ مددګار.

او همدارنګه دغیرالله لپاره ذبحه کول هم شرک دی، لکه دقبرونو لپاره ذبحه کول اویا دجناتو (پیر یانو) وغیره لپاره ذبحه کول.

**وضاحت:**

دالله جل جلاله سره دهغه په عبادت او بندګۍ کښې شریک جوړول اول ناقض دی دنواقض الاسلام نه مصنف رحمه الله دمشرک په باره کښې دوه دلیلونه ذکرکړیدي، اول دلیل دمشرک دحکم په باره کښې چه د د نیا سره متعلق دی.

یعني دمشرک څه حکم دی په دنیاکښې، اودوهم دلیل دمشرک دحکم په باره کښي چه داخرت سره متعلق دی، یعني دمشرک څه حکم دی په اخرت کښې.

اول دلیل دمشرک دحکم په باره کښي چه ددنیاسره متعلق دی:

دمشرک حکم په دنیا کښې دادی چه مشرک ته الله جل جلاله شرک نه معاف کوي لکه الله جل جلاله فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء: ٤٨]

**ترجمه**: يقينا الله تعالی نه بخي چه شرک وکړيشي دهغه سره او بخي هغه ګناهونه چه کم وي ددينه هغه چا لره چه وغواړي.

پس الله جل جلاله په دي ايت کريمه کښي دشرک اکبر تخصيص کړيدی، چه نه يي معاف کوي، او دشرک نه علاوه نور ګناهونه يي خپل مشيت (خوښې) ته سپارلي دي معاف کوي چا ته چه يي وغواړي.

دوهم دلیل دمشرک دحکم په باره کښي چې داخرت سره متعلق دی:

دمشرک حکم په اخرت کښي دادی چه جنت وربا ندي حرام دی

او ځاي دهغه اور دجهنم دی، او همیشه به په اور دجهنم کښي اوسیږي د الله جل جلاله ارشاد دی:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ﴾ [المائدة: ۷۲]

**ترجمه**: یقینا چاچې شرک وکړ د الله تعالی سره پس یقینا حرام کړیدی الله تعالی جنت په هغه باندي او ځاي دهغه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅ مدد ګار نشته.

هرکله چه دمشرک حکم په دنیا کښي دادی چه شرک ورته الله تعالی نه معاف کوی بغیر دتوبي نه او په اخرت کښي به همیشه په اور دجهنم کښي وي او جنت ورباندي ابدي (همیشه) حرام دی نو په دنیا کښي هم بعضي احکامورباندي مرتب کیږي.

دنیاوي بعضي هغه احکام چه دشرک سره متعلق دي:

۱ ځني دهغه احکامو نه چه په شرک باندي مرتب کیږي دادي چه دمشرک نه به دښځي دطلاقه ولو طلب او غوښتنه کولاي شي ترڅو چې ښځه دهغه نه بیله او جدا شي مګرکه توبه وباسي دشرک نه، نو بیابه دهغه نه د هغه ښځه نشي جداکولی، ځکه چه دا ښځه مسلمانه ده او مشرک کافر دی او مسلمانه ښځه دکافر په نکاح کښي نشي پاتي کیدلی لکه الله تعالی فرمایي:

﴿لَا هُنَّ حِلّٞ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّ﴾ [الممتحنة: ۱۰]

نه هغو ې حلالې دي دوي لره اونه دوي حلال دي هغوې لره، يعني دغه مؤمنانې ښځې دي کافرو لره حلالې او رواه ندي اونه داکافران دغې

مؤمنانوښځو لپاره حلال او رواه دي، او همدارنګه الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَنكِحُواْ ٱلْمُشْرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ﴾ [البقرة: ٢٢١]

او په نکاح سره مه ورکوي خپلې لونړه خويندي مشرکانو سړو ته تر هغې پوري چه دوي ايمان راوړي.

٢ او همدارنګه دځنې هغه احکامو نه چه په شرک باندي مرتب کيږي، دا ده چې په مشرک باندي به لمونځ دجنازي نه کيږي چه کله مړشي او نه به مشرک ته غسل ورکولاي شي.

٣ او ځنې داحکامو دمشرک نه داده چه مشرک به په مقبره دمسلمانانو کښې نشي دفن کولاي.

٤ او ځنې داحکامو دمشرک نه داده چه مشرک به مکې مکرمې ته نه داخليږي ځکه چه دمشرک داخليدل مکې مکرمې ته جايز ندي.

الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُواْ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا﴾ [التوبة: ٢٨]

ای مؤمنانو يقينا مشرکان پليت دي پس ندي نيز دي کيږي، مسجد حرام ته روستو ددي کال نه (يعني نهم کال دهجرت)

۵ او څني ددي احکامو نه داده چه مشرک ته به دخپلوانو په میراث کې برخه نه ورکول کیږي، او همدارنګه دمشرک میراث به دهغه مسلمانانو خپلوانو ته نه ورکول کیږي مثلاً که مشرک مړ شي او دده ښځه او بچي مسلمانان وي نو دوي ته به ددي مشرک میراث نه ورکول کیږي، بلکه دمشرک داmال به د مسلمانانو بیت المال ته ورکول کیږي مګر که ددي مشرک نورکافربچي وي نو هغوي ددي میراث اخستلی شي، لکه څرنګه چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

**«لا یرث المسلم الکافر ولا الکافر المسلم»**

مسلمان د کافر څخه او کافر د مسلمان څخه میراث نشي اخستلی.

نو څني هغه احکام چې په دې نواقضو داسلام باندې مرتب کیږي په لنډه توګه هغه دادي:

هرڅوک چې د اسلام ددې نواقضو ارتکاب وکړي، او بیا په دې باندې همیشه پاتې شي تردې چې مرګ ته ورته راشي او په داسې حال کې مړشي چې توبه یې نه وې کړې نو غسل به ورته نه ورکول کیږي، او دمسلمانانو په مقبره کې به نه دفن کیږي، دده میراث به دده مسلمانانو خپلوانو ته نه ورکول کیږي، لکه څنګه چې په ژوند کې د مشرک نه دهغه مسلمانه ښځه به دهغه نه جداکولی شي، او همدارنګه مشرک به مکې مکرمې ته هم نه داخلیږي، او چې د شرک په حالت کې مړشي نو جنت ورباندې حرام دی، او همیشه به په اور د دوزخ کې وسیږي.

مصنف رحمه الله ویلي: **(الشرك في عبادة الله -تعالى-)**

د الله تعالی سره دهغه په عبادت او بندګۍ کې شرک کول د اسلام د نواقضو څخه دي.

په دې مهال د عبادت پیژندل لازم او ضروري دي، ترڅو مونږ معلومه کړو چې په عبادت او بندګۍ کې شرک څه ته وايي.

عبادت او بندګي هر هغه قول (وینا) او عمل ظاهري (ښکاره) وې او که باطني (پټ) وې خو چې الله تعالی ته خوښ وې او هغه ورباندې خوشحالیږي، لکه مونځ کول عبادت دی زکات ورکول عبادت دی، حج کول عبادت دی، نذر منل عبادت دی، ذبحه کول عبادت دی، دعا غو ښتل عبادت دی، توکل (ځان سپارل) عبادت دی، خوف او ویره کول عبادت دی، مینه او رغبت کول عبادت دی، د الله تعالی په لاره کې جهاد کول عبادت دی، امر بالمعروف (نیکو ته بلنه کول) عبادت دی، نهي عن المنکر (د بدو نه منعه کول) عبادت دی، د ګاونډي سره احسان او ښیګڼه کول عبادت دی وغیره، ځکه چې ددې امر راغلی دی په قران کریم کې، او همدارنګه دهغه څه نه ځان ساتل کوم چې الله تعالی منعه کړي دي هم عبادت دی، لکه مسلمان او مؤمن بنده به شرک نه کوي، او دخلکو وینه، او مال او عزت به نه پایماله وې، او دحق نه به انکار نه کوې، او نارواه کارونه لکه غلا، زنا، شراب څښل، د مور او پلار نافرماني، غیبت چغلي، سود، وغیره به نه کوې.

نو په شریعت کې چې دڅه شي امر راغلي وي، په هغې به عمل کوې، او شریعت چې دڅه نه منعه کوې دهغې نه به ځان ساتې، دیته عبادت او بندګي وايي.

په شریعت مطهره کې (اوامر) په دوه قسمه دي:

امر د ایجاب چې په هغې باندي عمل کول واجب وي، لکه مونځ کول شو ځکه چې د مونځ کول واجب دي، او بل قسم امر د استحباب دی چې په هغې باندي عمل کول غوره او مستحب وي لکه مسواک وهل شو، ځکه مسواک وهل مستحب دي.

او په شریعت کې نهي هم په دوه قسمه ده: نهي دتحریم چې دهغې نه ځان ساتل واجب وي، لکه زنا، غلا وغیره شوه، ځکه چې د غلا، زنا وغیره نه ځان ساتل واجب دي او بل قسم نهي د تنزیه ده، چې دهغې نه ځان ساتل مستحب وي، لکه د ماخوستن مانځه نه وروستو خبري کول شول ځکه چې د ماخوستن مانځه وروسته خبري کول مکروه او ځان ساتل ترینه مستحب او غوره دي.

همدارنګه په شریعت کې ځینې کارونه ظاهر او ښکاره دي لکه مونځ، روژه وغیره شول، او ځینې کارونه بیا پټ او باطني دي، لکه نیت، اخلاص، صداقت، او محبت شو.

همدارنګه په هغه کارونو کې چې شریعت دهغې نه منع کوي هم په دوه قسمه دي: چې ځیني ښکاره دي، لکه زنا غلا وغیره، او ځینې نور بیا پټ او باطنې دي، لکه تکبر، ریا، ځان ښودنه، کینه، او بغض، وغیره دا ټول هغه کارونه دي، چې اسلامي شریعت ورڅخه په کلکه منع کړي ده.

نو عبادت او بندګي دې مخکې ټولو قسمونو ته کوم چې ذکر شو شامليږي، او بیا په دې قسمونو د عبادت کې چې هر یو قسم د غیر الله دپاره وکړی شي، نو دیته شرک وايي او کونکي ته يي مشرک وايي ځکه

چې دعبادت دا ټول قسمونه د الله تعالی لپاره خاص دي، او چې دغير الله دپاره وکړی شي، نو ديته په عبادت کې شرک ويل کيږي، نو ځکه مصنف رحمه الله ددي يو مثال ذکر کړو، او داسي يي وفرمايل: (**كالذبح لغير الله**) د اسلام په نواقضو کې يو مثال لکه دغير الله لپاره ذبحه کول شو، ددي په ارتکاب سره بنده د اسلام د دائرې نه خارجيږي، ځکه چې ذبحه کول عبادت دی، او د غير الله لپاره عبادت کول شرک دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الأنعام: ١٦٢]

ته ووايه: بيشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص دالله رب العالمين لپاره دی. دهغه هيڅ شريک نشته.

همدارنګه الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ [الكوثر: ٢]

نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه.

نو معلومه شوه چې ذبحه او قرباني کول عبادت دی او هرچا چې دا د الله تعالی نه ماسوا د بل چا لپاره وکړه نو يقينا هغه دالله تعالی سره په عبادت کې شرک وکړو، نو په دې اساس هر هغه څوک چې دجناتو، پيرانو، قبرونو، وليانو، سپوږمۍ، او نمر وغيره لپاره ذبحې کوې بيشکه مشرک او داسلامي ملت نه خارج دي.

همدغه شان د غير الله نه مدد غو ښتل، او په هغه سره پناه طلب کول، او هغه ته فرياد کول په هغه کارونو کې چې په هغې باندې د الله تعالی نه ماسوا بل څوک قدرت نلري داهم شرک دی.

او همدغه رنګ په حلالو او حرامو کې د مخلوق خبره منل او دهغوې تابعداري کول هم په شرک کې داخليږي، د بيلګې په توګه په حلالو، او حرامو کې د مشر، د وزير، د عالم، د بزرګ، د مور او پلار، وغيره تابعداري کول په داسي طريقې سره چې دوې څه ته حلال وايي، هغې ته حلال ويل او چې دوې څه ته حرام وايي هغې ته حرام ويل دا هم شرک دی ځکه چې حلال، او حرام عبادت دی او په دې کې به يواځې د شرعې تابعداري کيدلی شي، ځکه چې د حرامو، او حلالو اختيار يواځې د الله تعالی سره دی، او نبي کريم ﷺ فقط د هغې بيان او وضاحت کړی دی. نو په حلالو او حرامو کې د غير الله تابعداري کول شرک دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ﴾ [الشوری: ٢١]

ايا د دوې لپاره داسې شريکان شته، چې د دوې لپاره يې له دين څخه هغه لار مقرر کړې ده چې الله تعالی د هغې اذن او اجازه نه ده ورکړې.

نو معلومه شوه چې حلال او حرام يواځې د الله تعالی په اختيار کې دي، او په دې کې به يواځې دهغه تابعداري کيدی شي.

همدغه شان رکوع، سجده، طواف، نذر نياز منل، وغيره دا ټول دعبادت قسمونه دي، او دا ټول به يواځې دالله تعالی لپاره ادا کولی شي، او هر چا چې دا کارونه دغيرا لله لپاره وکړل نو پرته د شک څخه مشرک دی.

ځيني صو فيان (پيران مريدان) خپلو مشرانو ته رکوع او سجده کوې او دهغوې لپاره نذر نياز منې او لا ځيني کم عقله خو بيا داسې

هم شته چې دخپلو پیرانو لپاره خپل سرخره وې او په دې سره هغه ته خپل ځان نیزدې کوې، او ځینې بیا خپلو مشرانو ته توبې وباسي او دهغوې نه د ګناهونو معافي غواړې داټول هغه څه دي چې ددې په ارتکاب سره انسان د اسلامي ملت څخه خارجیږې ځکه چې توبه او دګناهونو معاف کول داهم یواځې د الله په اختیار کې دي باید یواځې دهغه وغو ښتل شي، لکه الله تعالی فرمایلي دي

﴿وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ [آل عمران: ١٣٥]

او بل څوک دی چې ګناهونه وبښي غیر د الله تعالی نه.

نو ګناهونه یواځې الله تعالی خپلو بندګانو ته معاف کوې نو باید ده چې یواځې دهغه نه دګناهونو معاف کیدل وغوښتل شي.

همدارنګه امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کې داسود بن سریع رضي الله عنه په روایت سره حدیث نقل کړی دی، چې نبي کریم ﷺ ته یو اسیر (بندي) راو ستلی شو، او داسي یي وویل:

**اللهُمَّ إِنِّي أَتُوبُ إِلَيْكَ، وَلَا أَتُوبُ إِلَى مُحَمَّدٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «عَرَفَ الْحَقَّ لِأَهْلِه»**[1].

---

(١) رواه احمد في مسنده: دا حدیث امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې راوړی دی، امام هیثمي په مجمع الزوائد کې وایي: چې داحدیث امام احمد، او امام طبراني راوړی دی او په دې کې محمد بن مصعب دی، چې امام احمد یي توثیق کړی دی، او نورو علماو ورته کمزوری ویلی دی، دا حدیث امام حاکم هم صحیح کړی دی، خو امام ذهبي په هغه رد کړی دی، او ویلي دي چې محمد بن مصعب کمزوری راوي دی، امام الباني داحدیث ضعیف ګرځولی دی، او په سلسلة الاحادیث الضعیفه کې راوړی دی.

الهي: زه تاته رجوع او توبه کوم، او محمد ته توبه نه کوم نبي کريم ﷺ وفرمايل: چې ده حق د خپل حقدار لپاره وپيژنده، يعنې د توبې حقدار الله تعالی دی بايد هغه ته توبه وکړی شي.

ځکه چې ګناهونه معاف کول يواځې دالله تعالی په اختيار کې دي، بايد دهغه نه معافي طلب کړی شي، نو هرچا چې دالله تعالی نه غير دبل چا لپاره توبه وکړه او دهغه نه يي دا طلب وکړو چې زما ګناهونه معاف کړه بي شکه مشرک دی ځکه چې توبه کول عبادت دی، او عبادت د الله تعالی نه غير د بل چا لپاره کول شرک دی.

نو ځکه مصنف رحمه الله وويل: چې د الله تعالی سره د هغه په عبادت او بندګې کې شرک کول د اسلام په نواقضو کې لمړی ناقض دی، دکوم په وجه باندي چې انسان داسلامي ملت څخه خارجيږي، او ددي لپاره يي مثال ذکر کړه چې د الله تعالی نه غير د بل چا لپاره ذبحه کول، او مونږ په ښه وضاحت سره ددي خبري بيان وکړه، چې عبادت او بندګې هر هغه قول (وينا) او عمل ظاهري (ښکاره) وې او که باطني (پټ) وې خو چې الله تعالی ته خوښ وې او هغهورباندې خوشحاليږي ديته عبادت وايي او د عبادت انواع او قسمونه هم ښه په وضاحت سره بيان شول او دا حقيقت هم واضحه شو، چې دعبادت ټول قسمونه د الله تعالی لپاره خاص دي او دالله تعالی نه غير دبل چا لپاره ددي ادا کول شرک دی اوکونکی يي مشرک او داسلامي ملت څخه خارج دی.



## الناقض الثاني

## اتخاذ الوسائط بين العبد وربه

د اسلام په نواقضو کې دویم ناقض شرکي وسیلې طلب کول دي: هر چا چې د الله تعالی لپاره داسې وسیلې مقرر کړې چې دهغې وسیلو نه خپل حاجتونه غواړي او په هغه وسیلو باندې توکل کوې، او دهغې نه شفاعت غواړې نو په اجماع دمسلمانانو سره کافر او داسلامې ملت نه خارجیږې.

**وضاحت:**

هر چاچې الله تعالی ته شرکي وسیلې ونیولې لکه قبرونه مړي وغیره د وسیلې په شکل کې په دوې عقیده لري او ددې قبرونو، مړو وغیره نه خپل حاجتونه او شفاعت غواړي، نو په اتفاق سره دا مشرک او داسلامې ملت نه خارج دی، ځکه چې حاجتونه غوښتل، او دعا دا ټول د عبادت انواع دي، نو هر هغه څوک چې د قبرونو نه خپل حاجتونه غواړي، او یا قبر والا ته وایې چې زما شفاعت وکړه او داعقیده لري چې دا قبر والا زما خبرې اوري او زما شفاعت کولای شي، نو په دې عقیدې سره داشخص داسلامې ملت نه خارجیږې، ځکه چې دحاجتونوغو ښتنه به یواځې د الله تعالی نه کولی شې، او په دې کې به

دالله تعالی سره بل هیڅوک نه شریکوې، نه قبرونه، نه پیغمبران، نه ولیان وغیره څکه چې الله تعالی یواځې دی او شریک نلري، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [يونس: ١٠٦]

او دالله تعالی نه غیر هغه شی مه رابله چې تاته نه فائده درسولی شي، او نه تاته ضرر درسولی شي، نو که چیري ته دا وکړې. نو بیشکه ته به په دغه وخت کې له ظالمانو څخه یې.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿ فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُعَذَّبِينَ ﴾ [الشعراء: ٢١٣]

نو ته د الله سره بل هیڅ معبود مه بله ګني نو شې به ته د عذاب ورکړی شویو نه.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ﴾ [لقمان: ١٣]

بیشکه یقینا شرک ډیر لوي ظلم دی.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿ وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ [المؤمنون: ١١٧]

او هغه چې د الله سره بل داسي اله (معبود) بلي چې دهغې سره په دې باندې هیڅ دلیل نشته، نو بیشکه همدا خبره ده چې دده حساب دده درب په نیز دی، بیشکه شان دادی چې کافران بری نه مومي.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ۝١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ﴾ [فاطر: ١٣-١٤]

او هغه معبودان چې تاسو يې د دغه الله نه بغير بولې دوی دکجورې د زړي هم مالکان نه دي، که تاسو دوی وبولې دوی ستاسو بلنه نه اوري، او که چیري يې واوري نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي، او د قیامت په ورځ به دوی ستاسو په شریک جوړولو منکر شي، او تاته بل څوک خبر نشي درکولی د ښه خبرداره الله په شان.

هر چا چې الله تعالی ته وسیلې مقرر کړې په داسي شان چې خپل ځان همدي وسیلو ته وسپاري، او دهمدې وسیلو نه خپل حاجتونه او شفاعت غواړې او په دې وسیلو باندې توکل کوي، نو دټولو مسلمانانو په اتفاق سره دا کفر او شرک دی، او ددې مرتکب مشرک او داسلامي ملت نه خارج دی.

د توکل پیژندنه: د توکل معنی داده چې په یو چا باندې خپل ځان سپارل، او په زړه سره هغه ته متوجه کیدل او دهغه نه دخپل مطلوب او مراد پوره کولو غوښتنه کول.

اول ناقض د اسلام په نواقضو کې کوم چې مخکې ذکر شو هغه عام دی، او دا دوهم ناقض دهغې په نسبت سره خاص دی، ځکه د الله تعالی سره په عبادت کې شرک کول عام دي، که دعا یعني غوښتنه وي یا ذبح وي، یا نذر منښته وي، یا په حلالو او حرامو کې دچا تابعداري، یا بل چا ته رکوع او سجده کول وغیره د اټول عام او دعبادت قسمونه دي.

او دا دوهم ناقض د اسلام د لمړي ناقض په نسبت سره خاص دی ځکه چې په دې کې د شرک یو خاص قسم راځې چې هغه شرکې وسیلې دي: دمثال په توګه چې څوک دقبر نه خپل حاجتونه غواړې او هغې ته خپل ځان سپاري، او په هغې باندي توکل کوې او یا قبر ته وایي چې دالله تعالی په دربار کې زما شفاعت وکړه او الله تعالی ته زما دا حاجت ورسوه وغیره نو ده دا قبر دالله تعالی سره په حاجتونو پوره کولو کې شریک کړو، همدغه شان که څوک په ژوندي انسان باندي داسي توکل وکړې چې دا به ما ته دجهنم د اورنه خلاصون را په برخه کړې، یا داسي چې دا به زما مدد او مرسته وکړې او ما ته به زما په دښمنانو باندي غلبه راکړې، یا داسي چې دابه ماته بچې راکړې یا داسي چې دا به ماته جنت راکړې، نو داهم شرک دی دالله تعالی سره ځکه چې دا ټول کارونه کوم چې مخکې ذکر شو په دې باندې د الله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک قدرت نلري، او په دې کارونو کې دالله تعالی سره بل څوک (مړ وي او که ژوندی) شریک کول شرک دی، او ددي مرتکب مشرک او داسلامي ملت نه خارج دی.

د ژوندي انسان نه يواځې دهغه کارونو طلب کول رواه دي کوم کارونه چې دهغه په قدرت کې وي، اوهغه يي ترسره کولاي شي، د مثال په توګه دژوندي انسان نه دا طلب کولی شي چې ما سره مرسته وکړه د ګاړي په جوړولو وغيره کې يا زما مرسته وکړه او قرض مال راته راکړه وغيره دا رواه دي ځکه چې داکارونه د انسان په قدرت کې شته او کولاي شي چې تاسره مرسته وکړې دګاړي په جوړولو کې او همدغه شان کولی شي چې تاته قرض پيسي وغيره درکړي، مګر که د ژوندي انسان نه دا وغواړي چې زما ګناهوه معاف کړه يا ماته د جهنم د اور نه خلاصون راکړه، يا ماته رزق راکړه يا ماته د دښمن په مقابل کې غلبه راکړه، يا ما جنت ته دداخليدلو نه مه محرومه وه وغيره، دا نارواه او شرک دی ځکه چې دا کارونه دانسان په اختيار کې نشته.

نو هرچا چې د الله تعالی لپاره داسي وسيلې مقرر کړې چې دهغې نه خپل حاجتونه غواړي او په هغه (وسيلو) باندې توکل کوي او دهغې نه شفاعت غواړي نو په اجماع د مسلمانانو سره کافر او داسلامي ملت نه خارجيږي.

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [يونس: ١٠٦]

او دالله تعالی نه غير هغه شی مه رابله چې تاته نه فائده درسولی شي، او نه تاته ضرر درسولی شي، نو که چيري ته دا وکړې نو بيشکه ته به

په دغه وخت کې له ظالمانو څخه يې، مراد په دې ايت کې د ظالمانو نه مشرکان دي.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا﴾ [الجن: ١٨]

او داچې يقينا مسجدونه خاص د الله تعالی دپاره دي نو تاسو د الله سره بل هيڅوک مه بلئ.

همدغه رنګ دالله تعالی فرمان دی:

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا﴾ [الجن: ٢٠]

ته دوې ته ووايه: يقينا زه خو يواځې خپل رب رابلم او زه به دده سره هيڅوک شريک نکړم.

نو هرڅا چې د الله تعالی لپاره داسې وسيلې مقرر کړې چې دهغې نه خپل حاجتونه غواړي او په هغه (وسيلو) باندې توکل کوې او دهغې نه شفاعت غواړي نو په اجماع د مسلمانانو سره کافر او داسلامې ملت نه خارجيږي، ځکه چې دعا غو ښتنه، او توکل دا ټول دعبادت قسمونه دي، او دالله نه غير دبل چا لپاره دا ګرځول کفر او شرک دی.

## الناقض الثالث

# عدم تكفير المشركين أو الشك في كفرهم أو تصحيح مذهبهم

د اسلام په نواقضو کې دریم ناقض دمشرکینو تکفیر نه کول یا د هغوې په کفر کې شک کول او یا د هغوې مذهب ته صحیح مذهب ویل داهم داسلام په نواقضو کې یو ناقض دی، چې ددې په وجه باندې انسان داسلامي ملت څخه خارجیږي، او په دې باندې د مسلمانانو اجماع ده.

**وضاحت:**

چاچې دمشرکینو تکفیر ونه کړو، یا یې دهغوې په کفر کې شک وکړو، او یا یې دهغوې مذهب ته صحیح مذهب ووایو، نو په دې سره دا خپله د اسلام په نواقضو کې د یو ناقض مرتکب کیږي، او داسلامي ملت نه خارجیږي ځکه چې مشرک ته مشرک او کافر ویل او دهغه نه بیزاره کیدل لازم او دایمان په شرطونو کې یو مهم شرط دی.

او په مشرکینو کې ټول کافران یهودیان، نصرانیان، بت پرست، ملحدین وغیره شامل دي، ځکه چې دوې ټول په کفر او شرک کې شریک دي.

یهودیان مشرکان دي، ځکه چې دوې په محمد ﷺ باندې ایمان نلري،

همدغه شان نصرانیان مشرکان دي، ځکه چې دوی هم په نبي کریم ﷺ باندي ایمان نلري، او دعیسی علیه السلام عبادت کوي، همدغه رنګ بت پرست، مجوسیان منافقان دوي ټول مشرکان او کافران دي، او دوی ته مشرکان او کافران ویل لازم اود ایمان په شرطونو کې مهم شرط دی، او څوک چې دوی ته مشرکان نه وايي، نو په اجماع د مسلمانانو سره دا مشرک او داسلامي ملت نه خارجیږي، ځکه چې مشرک ته مشرک او کافر ویل د ایمان په شرطونو کې مهم او لازمي شرط دی.

### أوشک فی کفرهم:

چاچې د مشرک او کافر په کفر کې شک وکړو، لکه هغه څوک چې د یهودانو، او نصرانیانو او بت پرستو او مجوسیانو په کفر کې شک کوي نو دی په دې شک سره خپله کافر کیږي ځکه چې ټولو کافرانو ته کافران ویل د ایمان په شرطونو کې اساسي او مهم شرط دی.

### أو صحح مذهبهم:

چاچې د کافرانو، او مشرکانو مذهب ته صحیح مذهب وویلو: لکه هغه څوک چې وايي یهودان او نصرانیان په صحیح دین باندي روان دي، یا داسي وايي چې مونږ دیهودانو، او نصرانیانو باره کې هیڅ نه وایو، بلکه دیهودانو خپل یو دین دی، او دنصرانیانو خپل دین دی او دمسلمانانو خپل دین دی، او هر څوک کولای شي چې ځان ته د خپلې خوښې دین غوره کړي داسې کس په اتفاق دمسلمانانو سره د دین اسلام نه خارج دی، ځکه چې د کافرانو مذهب او دین ته صحیح دین ویل کفر دی.

همدغه رنګ هغه څوک هم کافر او داسلامي ملت نه خارج دی څوک چې د یهودانو، او نصرانیانو، وغیره په کفر کې شک کوې، او داسي وايي مونږ نه پوهیږو چې یهودان او نصرانیان به کافر وې او که نه، ځکه چې یهودانو ته هم یو اسماني کتاب (تورات) نازل شوی وو، او نصرانیانو ته هم یو اسماني کتاب (انجیل) نازل شوی وو، او مسلمانانو ته هم یو اسماني کتاب (قران) نازل شوی دی په دي شک سره دی د اسلامي ملت نه خارجیږي او په دې باندي دمسلمانانو اجماع ده ځکه چې د یهودانو او نصرانیانو وغیره په کفر باندي یقین کول لازم او ایمان په شرطونو کې یو مهم شرط دی.

لکه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ﴾ [البقرة: ٢٥٦]

نو چا چې د طاغوت شیطان بت نه انکار وکړ، او په الله یې ایمان راوړ نو یقینا ده ډیره مظبوطه کړی تینګه ونیوله.

او هغه څوک چې د مشرکینو تکفیر نه کوې، یا دهغوې کفر کې شک کوې، او یا دهغوې دین او مذهب ته صحیح وايي نو ده دطاغوت نه انکار ونه کړ او دطاغوته انکار کول دایمان او توحید په شرطونو کې مهم او اساسي شرط دی، او ددي نه غیر ایمان، ایمان نه پاتي کیږي.

دطاغوت پیژندنه: هر هغه څه چې دهغې باره کې بنده د حد نه تجاوز وکړې دیته طاغوت وايي، که معبود وي (چې دالله نه غیر دهغه

بندګې کیږې) یا متبوع، او مطاع، وې (چې مطلقه دهغوې تابعداري کیږي نو هر هغه څه چې د اسلامي شریعت خلاف وې هغې ته طاغوت ویل کیږې.

او طاغوت ورته ځکه وايي چې طاغوت دطغیان نه اخستل شوی دی، او طغیان سرکشۍ او دحد نه تجاوز کولو ته وايي او په طاغوت کې هم شرکشې او د حد نه تجاوزموجود وي.

په طاغوت باندې د کفر کولو مفهوم: د غیر الله د عبادت او بندګۍ نه بیزاره کیدل، او هغه نفي کول او دهغې سره بغض کول او همدارنګه دهغې داهل نه بیزاره کیدل او دهغوې سره بغض کول دا په طاغوت باندې دکفر کولو مفهوم دی.

نو اول شرط په ایمان کې هغه دادی: چې د الله تعالی نه غیر چې د څومره معبودانو عبادت او بنده ګي کیږي، ددغه ټولو نه بیزاره کیدل، او په هغې باندې رد او دهغې نه انکار کول او دهغې د اهل سره بغض کول او دهغوې نه بیزاره کیدل دیته په طاغوت باندې کفر وايي، او دا دایمان لمړی او مهم شرط دی.

دویم مهم او اساسي شرط په توحید کې هغه په الله تعالی باندې ایمان او یقین لرل دي کله چې څوک د هر قسمه طاغوت نه انکار وکړې او په یو الله باندې ایمان راوړي نو دا موحد او کامله مؤمن دی.

د هرقسمه طاغوت نه انکار، او په یو الله باندې ایمان راوړل همدا د (**لا إله إلا الله**) معنی اومقصود دی.

او همدا هغه کلمه ده چې ویونکی د شرک نه ساتي او د همدي مقصد دپاره ټول پیغمبران راغلي دي، او دهمدي مقصد دپاره دالله تعالی په لاره کې جهاد مشروع شوی دی او د همدي مقصد دپاره به ورځ دقیامت راځي او دهمدي مقصد دوجې انسانان په دوه ډلو تقسیم شوی دي، چې یوه ډله يي خوشبخته ده، او بله ډله يي بد بخته ده، او دهمدي مقصد دپاره الله تعالی جنت او جهنم پیدا کړی دی.

د (**لا إله إلا الله**) معنی او مقصود هغه دادی: چې نیشته هیڅ معبود برحق سوا د الله تعالی نه، دا کلمه د توحید دوه بخشه لري چې یو بخش يي دهر طاغوت نه انکار کول دي او بل بخش يي په الله باندي ایمان لرل دي.

(**لا إله**) د توحید دکلمي په دې بخش کې د هر قسم طاغوت نه انکار او دهغې نه بیزارې ده، (**إلا الله**) او په دې برخه دکلمه طیبه کې په یو الله باندي ایمان او خاص دهغه دپاره عبادت او بندګې ده، نو دتوحید دا کلمه دهر قسمه طاغوت او دهغې دعبادت نه نفي کوې، او په یو الله باندي ایمان او خاص دهغه دپاره عبادت او بندګي کول ثابتوې، او دیته صحیح ایمان او توحید وایي.

اوڅوک چې د مشرکینو تکفیر نه کوې، نو په حقیقت کې دی د طاغوت نه انکار نه کوې، ځکه چې د مشرکینو تکفیر نه کول دا دمشرکینو سره دهغوې په شرک باندي د رضا او خوښۍ په معنی ده او همدا رنګه څوک چې د یهودانو مشرکینو، نصرانیانو او نورو کافرانو په

کفر کې شک کوې او یا دهغوې مذهب او دین ته صحیح دین وایې، نو په حقیقت کې دی د طاغوت نه انکار نه کوې او دهر قسم طاغوت نه انکار کول دایمان په شرطونو کې یو مهم او اساسي شرط دی، نو په دې اساس باندې ځوک چې د مشرکینو تکفیر نه کوې، او یا دمشرکینو، یهودانو نصرانیانو، مجوسیانو، وغیره نورو کافرانو په کفر کې شک کوې، او یا دهغوې مذهب او دین ته صحیح دین وایې، نو د مسلمانانو په اجماع سره دی داسلامي ملت نه خارجیږې.

لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ﴾

نو چا چې د طاغوت شیطان بت نه انکار وکړو، او په الله یې ایمان راوړ نو یقینا ده ډیره مظبوطه کړۍ ټینګه ونیوله.

ځوک چې د مشرکینو تکفیر نه کوې، او یا دمشرکینو یهودانو نصرانیانو، مجوسیانو، وغیره نورو کافرانو په کفر کې شک کوې، او یا دهغوې مذهب او دین ته صحیح دین وایې، نو دی په طاغوت باندې کفر او دهغې نه انکار نه کوې او چې ځوک د طاغوت نه انکار ونه کړې دهغه ایمان او توحید نه صحیح کیږې، بلکه په دې سره د ده ایمان او توحید له مینځه ځې، ځکه چې په توحید او ایمان کې دطاغوت نه انکار او بیزاري شرط ده لکه څنګه چې دي وضاحت مخکې وشو.

مخکې ددي خبري وضاحت وشو چې کلمه د توحید **(لا إله إلا الله)**

دوه برخې لري چې په یوه برخه کې یې د طاغوت نه انکار او دهغې نه بیزاره کیدل دي، او په بله برخه کې یې په الله تعالی ایمان او دهغه دپاره ټول قسمونه دعبادت او بندګۍ خاص کول دي، او په ایمان او توحید کې دا دواړه خبرې لازم دي چې ددینه پرته دهیچا ایمان او توحید نه صحیح کیږي، نو یواځې په دې خبره د یو بنده ایمان او توحید نه صحیح کیږي چې هغه وایي: زه د الله تعالی عبادت او بندګې کوم، او د هغه سره شرک نه کوم بلکه هغه یواځې یو ذات ګڼم، ترڅو چې دهر قسم طاغوت نه انکار ونکړي ځکه چې په کلمه دتوحید کې دا دواړه خبرې چې د طاغوت نه بیزاري، او یواځې دالله تعالی بندګې ده ذکر دي، او ددې دواړو نه پرته ایمان نه صحیح کیږي.

او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ﴾

نو چا چې د طاغوت شیطان بت نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ نو یقینا ده ډیره مظبوطه کړۍ ټینګه ونیوله.

د توحید کلمه په دوه برخو مشتمله ده چې په اوله برخه دهغې کې (تخلیه) ده او تخلیه دیته وایي چې لمړي باید بنده د خپلې عقیدې صفایي وکړي او دهر قسم شرک او دغیر الله دبندګې نه خپل ځان وساتي دیته تخلیه وایي او دتوحید د کلمې په دویمه برخه کې (تحلیه) ده او تحلیه ښائست او ښکلا ته وایي، هغه دا چې بنده روستو ددینه چې دهر قسم

شرک او دغیر الله د بندګۍ نه خپله عقیده صفا کړي، نو باید ده چې بیا یواځې دخپل رب الله تعالی دپاره عبادت او بندګي وکړي، او دیته تحلیه وایي، یعني خپله عقیده دالله تعالی په عبادت او بندګۍ باندي ښائسته کول.

## الناقض الرابع

# اعتقاد أن غير هدي النبي ﷺ أكمل من هديه أو حكم غيره أحسن من حكمه

داسلام په نواقضو کې څلورم ناقض دنبي کريم ﷺ طريقه اودهغه حکم نيمګړی ګڼل او دهغه په طريقې او حکمونو باندې د بل چا طريقه او حکم غوره کول:

هر چاچې دنبي کريم ﷺ طريقه اودهغه حکم نيمګړی وګڼه او دهغه ﷺ په طريقه او حکم باندې د بل چا طريقه او حکم غوره کړو، نو دا دسلامې ملت نه خارجيږې او په دې باندې دمسلمانانو اتفاق دی.

نو هغه څوک چې د الله او دهغه درسول ﷺ په حکمونو باندې د بل چا حکم غوره کوې دا داسلامې د دائرې نه خارج دی.

**وضاحت:**

چاچې دنبي کريم ﷺ طريقه اودهغه حکم نيمګړی وګڼه او دهغه ﷺ په طريقه او حکم باندې د بل چا طريقه او حکم غوره کړو، نو په دې سره دا کس کافر کيږې ځکه چې په دې عقيدې سره دا کس دنبي کريم ﷺ د رسالت نه انکار کوې او دنبي کريم ﷺ درسالت نه

انکار کول کفر دی، ځکه چې دنبي کریم ﷺ د رسالت منل او په هغې اقرار کول ددي تقاضا او غوښتنه کوې چې دنبي کریم ﷺ تصدیق وکړی شي په هر هغه څه کې چې هغه د الله تعالی لخوا مونږ ته راوړي دي او په هغې عمل او هره فیصله دهغه په شریعت وکړی شي، او دهغه هر حکم پرځاې کړی شي

او هر هغه څه چې هغه ترینه منعه کړې دهغې نه ځان وساتل شې، او دالله تعالی عبادت دهغه د شریعت موافق وکړی شي.

نو هر هغه څوک چې دنبي کریم ﷺ طریقه اودهغه حکم نیمګړی ګڼي او دهغه ﷺ په طریقه او حکم باندي د بل چا طریقه او حکم غوره کوې بیله شکه کافر او داسلامي ملت نه خارج دی ځکه چې په حقیقت کې دا دنبي کریم ﷺ درسالت نه انکار کول دي، او دنبي کریم ﷺ درسالت نه انکار کول کفر دی، اګر که دی په ژبه باندي دنبي کریم ﷺ درسالت ګواهي هم ورکوې، همدغه رنګ هغه څوک هم کافر دی، او داسلامي ملت نه خارج دی، څوک چې دنبي کریم ﷺ دطریقې او حکم سره دبل چا طریقه او حکم برابر ګڼي بلکه هغه څوک هم کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي څوک چې دنبي کریم ﷺ طریقه اودهغه حکم نیمګړی نه ګڼي بلکه دیته غوره اوبهتره وایي، خو دبل چا په طریقه او حکم باندي فیصله کول جائز ګڼي، وایي چې دنبي کریم ﷺ.

طریقه او حکم غوره دی، خو دهغه ﷺ دحکم نه غیر دبل چا په حکم فیصله کول هم جائز دي، هرڅوک چې دا عقیده ولري کافر

کيږي، ځکه چې ده هغه څه جائز وګڼل کوم چې په دين اسلام کې دهغې تحريم ښکاره معلوم دی.

او حرامو ته په حلال ويلو باندي انسان کافر کيږي، ددي مثال داسي دی، لکه چې يو څوک ووايي، زه زنا، غلا سود نه کوم خو دا زنا، غلا، سود حلال او جائز دی، په دې سره دا ويونکی کافر کيږي، ځکه چې دا کارونه ټول حرام دي او په دين اسلام کې ددي تحريم معلوم دی، او هغه څه ته حلال ويل دکومو تحريم چې په دين اسلام کې معلوم وي کفر دی.

همدغه رنګ هغه څوک هم کافر او داسلامي ملت نه خارج دی، څوک چې په وضعي (دځان نه جوړشوی) قانون باندي فيصله کول جائز ګڼي، اګر که په شرعي قانون باندي فيصله کولوته غوره وايي، ځکه چې په وضعي قانون باندي فيصله کول حرام دي، او ددي تحريم په دين اسلام کې ښکاره معلوم دی، او هغه څه ته حلال ويل دکومو تحريم چې په دين اسلام کې معلوم وي کفر دی، چاچې زنا، ته حلال او جائز وويل کافر کيږي، چاچې سود کول حلال وګڼل کافر کيږي، چاچې په وضعي قانون باندي فيصله کولو ته جائز وويل کافر کيږي، اګر که دا کس شرعي قانون غوره ګڼي ځکه چې په وضعي قانون باندي فيصله حلال او جائز ګڼل کفر دی.

نو د اسلامي شريعت نه په غير بل قانون باندي فيصله کول جائز ګڼل کفر دی، ځکه چې د اسلامي شريعت څخه پرته په بل قانون

باندي دفيصلې کولو ممانعت او تحريم په دين اسلام کې ښکاره معلوم دی، او هغه څه ته حلال ويل دکومو تحريم چې په دين اسلام کې ښکاره معلوم وي کفر دی اګر که دا فيصله کونکې په دې اقرار او اعتراف هم کوې چې اسلامي قانون او شريعت غوره دی.

او داځکه چې په وضعي قانون باندي فيصله جائز ګڼل دنبي کريم ﷺ درسالت نه انکار کول دي، ځکه چې دنبي کريم ﷺ رسالت منل ددې غوښتنه کوې چې دهغه په شريعت باندي بايد فيصله وکړی شي، او په وضعي قانون باندي دفيصلې کولو نه ځان وساتل شي، نو څوک چې په وضعي قانون باندي فيصله کول جائز ګڼي حقيقت کې دا دنبي کريم ﷺ درسالت نه انکار کول دي، او دنبي کريم ﷺ د رسالت نه انکار کول کفر دی.

## الناقض الخامس

# بُغض شيء مما جاء به الرسول عليه الصلاة والسلام - ولو أنه عمل به

د اسلام په نواقضو کې پنځم ناقض: دهغې احکامو او تعلیماتو سره بغض کول او هغه بد ګڼل کوم چې نبي کریم ﷺ د الله تعالی لخوا نه د بشریت د ښیګڼې او سوکالۍ لپاره راوړي دي.

چاچې د اسلامي احکامو او تعلیماتو سره کوم چې نبي کریم ﷺ د الله تعالی لخوا نه د بشریت د ښیګڼې او سوکالۍ لپاره راوړي دي بغض وکړو او هغه یې نا خوښ وګڼل نو بیله شکه کافر او داسلامي ملت نه خارج دی اګر که په اسلامي تعلیماتو عمل هم کوي، او په دې باندې د علماو اتفاق دی.

**وضاحت:**

د اسلام په نواقضو کې پنځم ناقض: هر څوک چې داسلامي احکامو او تعلیماتو سره بغض وکړې او هغه تعلیمات ناخوښ وګڼي کوم چې نبي کریم ﷺ دالله تعالی لخوانه دبشریت د ښیګڼې او سوکالۍ لپاره راوړي دي نو په دې سره دا کس کافر او دسلامي ملت نه خارجیږي اګر که دی په دې احکامو او تعلیماتو باندې عمل هم کوي.

د مثال په توګه: نبي کریم ﷺ په اسلامي تعلیماتوکې مونځ مشروع او لازم ګرځولی دی، نو هر څوک چې مونځ بد او ناخوښ وګڼي کافر او د اسلامي ملت نه خارجیږي، همدغه رنګ نبي کریم ﷺ د زکات ورکول واجب ګرځولي دي، نو هرڅوک چې زکات ورکول ناخوښ وګڼي کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي، همدغه شان نبي کریم ﷺ په اسلامي تعلیماتو کې دځلورو پوري ښځو سره نکاح کول جائز کړي دي، نو هر څوک چې دا شرعي احکام ناخوښ وګڼي کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي.

ښځو ته باید تعلیم ورکړی شي، او په دې حقیقت پوهه کړی شي، چې یو سړي ته الله تعالی د ځلورو ښځو پورې دنکاح کولو حق ورکړی دی، او دا دالله تعالی حکم او دهغه فیصله ده، نو ښځې باید دالله تعالی دا حکم بد او ناخوښ ونه ګڼي ځکه چې دا دالله تعالی او دهغه دپیغمبر حکم دی او دالله تعالی او دهغه دپیغمبر حکم بد او ناخوښ ګڼل کفردی.

که یوه ښځه د الله تعالی دا حکم بد نه ګڼي خو دخپل طبیعت په اساس دا نه خوښوي چې دهغې خاوند د بلې ښځې سره نکاح وکړي او یا ورسره دا ویره وي چې خاوند به یې عدل او انصاف ونه کړي نو ځکه نه خوښوي چې خاوند یې د بلې ښځې سره نکاح وکړي باک نلري، خو که دالله تعالی داحکم بد وګڼي نو دا کفر او داسلامي ملت نه خارجیدل دي.

ځکه چې د الله حکم ناخوښ او بد ګڼل کفر دی، او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴾ [محمد: ٩]

دا ځکه چې یقینا دوې هغه قران بد ګڼلی دی چې الله تعالی نازل کړی دی، نو هغه الله د دوې عملونه برباد کړل.

هر څوک چې داسلامي احکامو او تعلیماتو سره بغض وکړې او هغه ناخوښ او بد وګڼي کافر او دسلامي ملت څخه خارجیږي.

د مثال په توګه: په اسلامي تعلیماتو کې د لمونځ، زکات، روژه، حج، وغیره مشروعیت سره څوک بغض وکړې او هغه ناخو ښ وګڼې بیله شکه کافر او د اسلامي ملت څخه خارجیږې.

ځکه چې دا عملونه بد او ناخوښ ګڼل د بنده ایمان له مینځه وړي

هغه داسي چې دالله تعالی او دهغه د دین او پیغمبر سره محبت کول واجب دی، او څوک چې د هغه د دین سره بغض کوې او دیني تعلیمات ناخوښ ګڼي په حقیقت کې دا دالله تعالی او دهغه ددین او دپغمبر دمحبت نه مخ اړه وې او دالله تعالی د محبت نه مخ اړه ول او دهغه دین ناخوښ ګڼل کفر دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾

دا ځکه چې یقینا دوې هغه قران بد ګڼلی دی چې الله تعالی نازل کړی دی، نو هغه الله د دوې عملونه برباد کړل.

نو هرڅوک چې د دیني تعلیماتو سره بغض کوې او هغه ناخوښ ګڼي بیله شکه کافر او داسلامي ملت نه خارج دی.



## الناقض السادس

# من استهزأ بشيء من دين الرسول عليه الصلاة والسلام، أو ثواب الله، أو عقابه، كفر

د اسلام په نواقضو کې شپږم ناقض: په دین اسلام او یا دهغې په احکامو پوري، او همدارنګه دالله تعالی په ثواب او عقاب پوري ټوقي او مسخرې کول کفر دی.

او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ﴾ [التوبة: ٦٥-٦٦]

ته ورته ووایه: ایا تاسو په الله او دهغه په رسول پورې توقي او مسخرې کولې؟ عذرونه بهانې مه جوړوې، يقينا تاسو دخپل ایمان راوړلو نه وروستو کافران شوې یي.

**وضاحت:**

د اسلام په نواقضو کې شپږم ناقض: په دین اسلام او یا دهغې په احکامو پوري، او همدارنګه دالله تعالی په ثواب او عقاب پوري ټوقي او مسخرې کول کفر دی.

نو هر څوک چې په اسلامي تعلیماتو پورې ټوقې او مسخرې وکړې کافر او د اسلامي ملت نه خارجيږي.

د بیلګې په توګه که څوک په لمانځه پورې، یازکات پورې یا روژې پورې اویا په لمونځ کونکو پورې ټوقې او مسخرې وکړې کافر کیږي، همدغه رنګ که څوک په ګیره پورې ټوقې او مسخرې وکړې کافر کیږي، ځکه چې ګیره پریښود دنبي کریم ﷺ سنت دي او هغه ﷺ خپل امت ته د ګیرې د پریښودلو امر کړی دی، نو په ګیره پورې ټوقې او مسخرې کول کفر دی.

همدغه شان په جنت او دوزخ پورې ټوقې او مسخرې کول کفر دی.

جنت الله تعالی د خپلو نیکانو بندګانو لپاره د نعمتونو او خوشحالیو کور پیدا کړی دی، او دوزخ الله تعالی د کافرانو لپاره دعذاب او کړاونو کور پیدا کړی دی، که څوک په دې پوري ټوقې او مسخرې وکړي، نو کافر او د اسلامي ملت نه خارجيږي.

همدغه شان د ځینې عملونو په اجر او ثواب پورې ټوقې او مسخرې کول هم کفر دی، لکه د مثال په توګه چې څوک دا حدیث واورې:

**عن أبي هريرة رضي الله عنه؛ أن رسول الله ﷺ قال: «من قال سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة، حطت عنه خطاياه وإن كانت مثل زبد البحر».**

ابوهریره رضي الله عنه روایت کوې چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: څوک چې د ورځې (**سبحان الله وبحمده**).

سل ځله ووايي نو ټول ګناهونه به يې معاف شي اګر که ددرياب دځګ برابر ګناهونه وي.

که څوک په دې حديث پورې ټوقې او مسخرې وکړې نو کافر او داسلامي ملت نه خارجيږي.

نو ددين اسلام په احکامو او تعليماتو پورې او همدغه رنګ په هغه ثوابونو پورې کوم چې الله تعالی د خپلو نيکانو بندګانو دپاره تيارکړې دي، او هغه عذابونه کوم چې الله تعالی دفاسقانو او فاجرانو دپاره تيار کړي دي ټوقې کول کفردی.

او په دې باندې دليل د الله تعالی دا وينا ده:

﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ﴾

ته ورته ووايه: ايا تاسو په الله او دهغه په رسول پورې توقې او مسخرې کولې؟ عذرونه بهانې مه جوړوې، يقينا تاسو دخپل ايمان راوړلو نه وروستو کافران شوي يې.

د ټوقو او مسخرو په وجه باندي الله تعالی په دوې باندي دکفر حکم وکړو، او د دوې کفر يې ثابت کړو.

دا اياتونه د تبوک دغزا په مهال په مجاهدينو کې دهغه کسانو په باره کې نازل شوي وو، کومو چې په نبي کريم ﷺ او دهغه په ملګرو پورې ټوقې او مسخرې وکړې، او داسې وويل: چې مونږ د دوې په څير خيټور

په خوراک کې، او د دوې په خير دروغژن په خبرو کې، او د دوې په څير کم زړي دجنګ په وخت نه دي ليدلي.

يعنې دا پيغمبر او دده ملګري ډير خوراکونه کوې، او په خبرو کې دروغ وايي، او دجنګ په وخت کې کمزړي دي خوکله چې دوې دا خبري کولې، نو عوف بن مالک د دوې داخبرې واوريدلې، نو ده هغه کس ته چې داخبرې يې کولې وويل: ته دروغژن او منافق يې زه به خامخا نبي کريم ﷺ ددي خبر ورکووم!

عوف بن مالک ددي لپاره راغې چې نبي کريم ﷺ ته خبر ورکړې، خو ددي نه مخکې په نبي کريم ﷺ باندي د الله لخوا وحې راغلې وه او دا اياتونه الله تعالى نازل کړې وو:

﴿قُلْ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ٦٥ لَا تَعْتَذِرُوا۟ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ﴾

ته ورته ووايه: ايا تاسو په الله او دهغه په رسول پورې توقې او مسخرې کولې؟ عذرونه بهانې مه جوړوې، يقينا تاسو دخپل ايمان راوړلو نه وروستو کافران شوې يې.

د دې ايت د نازليدلو نه وروستو هغه کس چې دا ټوقې او مسخرې يې کړې وې نبي کريم ﷺ ته راغی عذرونه او بهانې يې ورته پيش کولې، چې يا رسول الله داخبرې خو مونږ ستاسو دسپکاوې دپاره نه دې کړې بلکه په دې خبرو سره خو يواځې مونږ د لارې مزل لنډه وو عذرونه او بهانې يې پيشکولې.

او نبي کريم ﷺ ورته يواځې همدا ايت لوستلو:

﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ﴾

ته ورته ووايه: ايا تاسو په الله او دهغه په رسول پورې توقې او مسخرې کولې؟ عذرونه بهانې مه جوړوې، يقينا تاسو دخپل ايمان راوړلو نه وروستو کافران شوې يې.

او هغه کس چې ټوقې او مسخرې يې کړې وې په ډېرې زارۍ سره يې دنبي کريم ﷺ نه معافي غوښتله په داسې حال کې چې دنبي کريم ﷺ د اوښې پړی يې کلک نيولی وو، او خپې يې په زمکه باندې په کاڼو کې راښکلې او په ډېره زارۍ سره يې دنبي کريم ﷺ نه معافي غوښتله!

او نبي کريم ﷺ ورته يواځې همدا ايت لوستلو:

﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ﴾

ته ورته ووايه: ايا تاسو په الله او دهغه په رسول پورې توقې او مسخرې کولې؟ عذرونه بهانې مه جوړوې، يقينا تاسو دخپل ايمان راوړلو نه وروستو کافران شوې يې.

نو ددين اسلام په احکامو او تعليماتو پورې او همدغه رنګ په هغه ثوابونو پورې کوم چې الله تعالی د خپلو نيکانو بندګانو دپاره تيارکړې دي، او هغه عذابونه کوم چې الله تعالی دفاسقانو او فاجرانو دپاره تيار کړې دي ټوقې کول کفردی، ځکه چې دوې په دين پورې ټوقې نه

وې کړې بلکه دوې په صحابه کرامو پورې ټوقې او مسخرې کړې وې او داسې يي ويلي وو چې دا دپيغمبر ملګري ډير خوراکونه کوې، او دروغ وايي او د جنګ په وخت کې کم زړي دي، او په دې سره دوې داسلاملت نه خارج شول، نو دهغه چا به څه حال وې چې هغوې دين اسلام او يا دهغې په تعليماتو پورې ټوقې او مسخرې کوې، دمثال په توګه په لمانځه زکات، روژه وغيره پورې ټوقې او مسخري کوې، يا په جنت، دوزخ، او پل د صراط، تله دميزان وغيره پورې ټوقې او مسخرې کوې، نو بيله شک نه دوې په دې ټوقو او مسخرو سره کافر او داسلامي ملت نه خارجيږې.

## الناقض السابع

# السحر، ومنه الصرف والعطف، فمن فعله أورضي به كفر

د اسلام په نواقضو کې اوم ناقض: سحر دی او دسحر په قسمونو کې یو قسم (صرف) دښځې او خاوند جدا کول، او (عطف) یا د ښځې او خاوند به مینځ کې مینه او محبت پیدا کول دي.

نو هر چا چې سحر وکړو او یا په سحر باندې راضي شو کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي، او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾ [البقرة: ١٠٢]

او دغو دواړو به هیچا ته ښودنه نه کوله مګر ویل به یې: مونږ یو ازمیښت یو، نو ته مه کافر کیږه.

نو ددي ایت نه معلومه شوه چې سحر کول کفر دی.

**وضاحت:**

سحر په لغت کې هغه څه ته وایي چې دهغې سبب او علت خفي او پټ وي.

او په شرعه کې سحر عبارت دی دهغه تعویذونو، او دمونو او غوټو،

او لوګو ته چې دانسانانو په زړونو او بدنونو کې تاثیر کوي، کله دغه تاثیر داسې وي چې انسان مریض شي او کله داسې وي چې ددې دوجې نه انسان مړ شي، او کله داسې وي چې ددې سحر په وجه د خاوند او ښځې په مینځ کې جدايي راشي وغیره.

او سحر ته سحر ځکه وايي چې دهغې تاثیر مخفي او پټ وي او دسحر د تاثیر د وجې نه انسان کله مریض کیږي، او کله د سحر دتاثیر دوجې نه انسان مري هم، او کله دسحر دتاثیر دوجې نه دښځې او خاوند په مینځ کې جدا والی هم راځي.

ساحر تر هغه وخته پورې جنات، پیریان، او شیطانان دخپل ځان نشي تابع کولی ترڅو چې دا ساحر د شرک او کفر مرتکب نشي!

نو ځکه سحر دشرک یو قسم دی او دسحر په وجه باندې انسان د اسلامي ملت نه خارجیږي.

ځکه کله چې ساحر پیریان دخپل ځان تابع کوي، نو خامخا دشرک ارتکاب کوي، ځکه چې پیریان دساحر خدمت هیڅ کله نه کوي ترڅو چې دا ساحر په شرک او کفر کې واقع نه کړي.

دمثال په توګه: پیریان ساحر ته ووايي چې مونږ به ستا خدمت او تابعداري کوو، خو په دې شرط چې ته به قران کریم په ګندګې کې وغورځوې، او یا به په قران کریم باندې متیازې وکړې، او یا به زمونږ دپاره ذبحه او قرباني وکړې وغیره، نو کله چې ساحر دا کارونه ترسره کړي نو ددې په وجه باندې دی مشرک او کافر شي، او بیا پیریان ددې

ساحر تابع او خبره يي مني، بيا چې ساحر ورته ووايي چې فلانکی کس ووهه نو هغه وهې ترديې که دا ساحر ورته ووايي: چې فلانکی کس مړ کړه نو وژني هغه لره او کله ورته خبرونه وغيره هم راوړې.

ددي وجې نه سحر دشرک يو قسم دی، نو چاچې دسحر زده کړه وکړه، يا يي بل چا ته دسحر تعليم ورکړو، او يا يي سحر وکړو، او يا په سحر کولو باندې راضي شو، نو بيله شکه مشرک او داسلامې ملت نه خارجيږي او په دې باندې دليل د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾

او دغو دواړو به هيچا ته ښودنه نه کوله مګر ويل به يي: مونږ يو ازميښت يو، نو ته مه کافر کيږه.

ددې ملائکو نه چې به چا وغوښتل چې سحر ورته وښايي نو دوې به ورته نصيحت وکړو، او دسحر زده کولونه به يي منعه کړل، او ورته به يي وفرمايل:

﴿إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ﴾

مونږ يو ازميښت يو، نو ته مه کافر کيږه.

او همدارنګه دا وينا دالله تعالى:

﴿وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ﴾ [البقرة: ١٠٢]

او سليمان عليه السلام کفر نه وو کړی او ليکن شيطانان کافر شوي وو خلقو ته به يي جادو ښودلو.

ددي اياتونونه معلوميږي چې سحر او جادو كفردى او ددې كونكى او په دې باندې راضې كيدونكى كافر او داسلامي ملت نه خارج دى.

او دسحر په قسمونو كې يو قسم (صرف) دښځې او خاوند جدا كول، او (عطف) يا د ښځې او خاوند به مينځ كې مينه او محبت پيدا كول دي.

دسحر په قسمونو كې يو قسم سحر د(صرف) دى دصرف معنې داده چې په دې قسم دسحر سره دښځې او خاوند په مينځ كې اختلاف پيداكيږي او بيا ديو بل نه جدا كيږي دمثال په توګه چې كله په يو سړي باندې دا سحر وشې نو هغه ته بيا خپله ښځه په ډير بدرنګ شكل كې ښكاري او نفرت ترينه كوي او نه غواړې چې خپلې ښځې ته نيژدي شي.

او يا داسحر په ښځه باندې وشې نو هغې ته بيا خپل خاوند په ډير بد رنګ شكل كې ښكاري او ډير ځله بيا ددي سحر انجام په طلاق باندې سر ته ورسيږي او خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړي او ديو بل نه جدا شې.

او بل يو قسم دسحر هغه (عطف) دى دعطف معنى داده چې په دې سره د ښځې او خاوند په مينځ كې مينه ډيريږي

دمثال په توګه چې كله په يو سړي باندې دا سحر وشې نو هغه ته بيا خپله ښځه په ډير ښائسته شكل كې ښكاري مينه او محبت يي ورسره زياتيږي، اګر كه په حقيقت كې دا ښځه بد رنګه او بد اخلاقه هم وې.

او يا داسحر په ښځه باندې وشې نو هغې ته بيا خپل خاوند په

ډیرښائسته او ښکلي شکل کې ښکاري مینه او محبت یې ورسره زیاتیږي، اګر که په حقیقت کې ددې دا خاوند بد رنګ او بد اخلاقه هم وي، او دا ټول کارونه دسحر په نتیجه کې پیدا کیږي.

او ددې سحر یو قسم هغه ته (تولة) وایي، تولة یو قسم دوا ده چې ساحران یې تیاروي او په هغې باندې عام خلک دا ګمان کوي چې کله دا دوا دخاوند سره وي نو بیا دښځې ورسره مینه او محبت پیدا کیږي، او چې کله دښځې سره وي، نو بیا د خاوند ورسره مینه او محبت پیدا کیږي او دا ټول په سحر کې دا خلیږي.

او چاچې سحر وکړه، او یا په سحر باندې راضي شو نو ددې په وجه باندې دا انسان کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي.

او په دې باندې دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡ﴾ [البقرة: ١٠٢]

او دغو دواړو به هیچا ته ښودنه نه کوله مګر ویل به یې: مونږ یو ازمیښت یو، نو ته مه کافر کیږه.

اود الله تعالی دا وینا ده:

﴿وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ﴾

او سلیمان علیه السلام کفر نه وو کړی او لیکن شیطانان کافر شوي وو خلقو ته به یې جادو ښودلو.

ددي ایاتونه معلومیږي چې سحر او جادو کفردی او ددې کونکی او په دې باندې راضي کیدونکی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی.

ساحران دسحر په وجه باندې هیچا ته ضرر او تکلیف نشي رسولی مګر هغه تکلیف او ضرر به ورته رسیږي کوم چې الله تعالی ددي انسان په تقدیر او قسمت کې لیکلی وي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دی:

﴿وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ﴾ [البقرة: ١٠٢]

او دوې په دې سحر سره هیچا ته ضرر نشي رسولی مګر دالله تعالی په حکم سره.

## الناقض الثامن

# مظاهرة المشركين ومعاونتهم على المسلمين

**د اسلام په نواقضو کې اتم ناقض:** دمسلمانانو په خلاف دمشرکانو او کافرانو سره مرسته او مدد کول دي، او په دې باندې دليل د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [المائدة: ٥١]

او په تاسو کې چې چا د دوې سره دوستي وکړه، نو يقينا هغه له همدوې څخه دی، او بيشکه الله تعالى ظالم قوم ته هدايت نه کوې.

**وضاحت:**

د مسلمانانو په خلاف د مشرکانو، او کافرانو سره مرسته اوکومک کول کفر دی، او په دې سره انسان د اسلامي ملت نه خارجيږي.

دمثال په توګه دکافرانو او مسلمانانو په مينځ کې جنګ وې او په دې کې يو کس د کافرانو سره د مسلمانانو په خلاف مرسته او تعاون وکړې، نو په دې عمل سره دا مرسته کونکی د اسلامي ملت نه خارجيږي.

که دا مرسته او کومک په هرشکل کې وې لکه په اسلحې سره دکافرانو کومک وکړې يا په مال سره يا کافرانو ته داسي مشورې ورکړې

چې په هغې سره مسلمانانو ته تکلیف او ضرر رسیږي، په دې ټولو کارونو سره انسان کافر او داسلامي ملت نه خارجیږي، ځکه چې په دې عمل سره ده مشرکان او کافران په مسلمانانو باندې غوره کړل، او ددینه دا لازمیږي چې دکافرانو سره مرسته او کومک کونکی په اصل کې اسلام او مسلمانان بد ګڼي او کفر او شرک په اسلام باندې غوره کوي، اودا بیله شکه کفر او ارتداد دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ [محمد: ٩]

دا ځکه چې یقینا دوی هغه قران بد ګڼلی دی چې الله تعالی نازل کړی دی، نو هغه الله د دوی عملونه برباد کړل.

هرڅوک چې د مسلمانانو په خلاف د کافرانو او مشرکانو سره مدد کوي، نو په دې کار سره دا کس د اسلامي ملت نه خارجیږي، ځکه چې د کافرانو سره مدد کول، په اصل کې د اسلام سره بغض کول دي او دکفر سره مینه کول دي، او د اسلام سره بغض کول، او اسلام بد ګڼل کفر دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾

دا ځکه چې یقینا دوی هغه قران بد ګڼلی دی چې الله تعالی نازل کړی دی، نو هغه الله د دوی عملونه برباد کړل.

او د مسلمانانو په خلاف د کافرانو سره مدد کول کفر، او په دې باندې خاص دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [المائدة: ٥١]

ای مؤمنانو تاسو د یهودانو او نصاراو سره دوستي مه کوئ دوئ په خپلو کې د يو بل دوستان دي، او په تاسو کې چې چا د دوئ سره دوستي وکړه، نو يقينا هغه له همدوئ څخه دی، او بيشکه الله تعالی ظالم قوم ته هدايت نه کوي.

د دې ايت کريمه نه معلومه شوه چې د مسلمانانو په خلاف د کافرانو او مشرکانو سره مدد کول کفر دی.

د (موالات او تولي) په منځ کې فرق: تولي يعني دکافرانو سره دوستي او مدد کول دمسلمانانو په خلاف دا کفر دی.

او موالات يعني د کافرانو سره تعلقات او اړيکې ساتل دا ګناه کبيره ده.

اصل د تولي: دکافرانو سره په زړه کې مينه کول دي او بيا ددې محبت په وجه دهغوئ سره مرسته او مدد کول د مسلمانانو په خلاف په مال سره، يا په اسلحې سره وغيره او په نص د قران کريم سره دا کفر دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [المائدة: ٥١]

ای مؤمنانو تاسو د يهودانو او نصاری و سره دوستي مه کوئ دوئ په خپلو کې د يو بل دوستان دي، او په تاسو کې چې چا د دوئ سره دوستي

وکړه، نو یقینا هغه له همدوي څخه دی، او بیشکه الله تعالی ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

**(ومن يتولهم منكم)** یعني څوک چې ستاسونه کافرانو ته واوړي او دهغوي سره دوستي وکړي.

**(فإنه منهم)** پس هغه یقینا دهمدې کافرانو دجملې څخه شو.

## الناقض التاسع

# من اعتقد أن بعض الناس يسعه الخروج عن شريعة محمد ﷺ

د اسلام په نواقضو کې نهم ناقض: داعقیده لرل چې په ځینې خلکو باند دنبي کریم ﷺ تابعداري فرض نه ده.

هرڅوک چې دا عقیده لرې چې ځینې خلک په عبادت او بندګۍ کې داسې مرتبې ته ورسیږې چې بیا په هغه باندې دنبي کریم ﷺ تابعداري فرض نه وي، لکه څنګه چې په خضر علیه السلام باندي د موسی علیه السلام تابعداري فرض نه وه، دا عقیده لرونکی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی.

**وضاحت:**

هرڅوک چې دا عقیده لرې چې ځینې خلک په عبادت او بندګۍ کې داسې مرتبې ته ورسیږې چې بیا په هغه باندې دنبي کریم ﷺ تابعداري فرض نه وي، لکه څنګه چې په خضر علیه السلام باندي د موسی علیه السلام تابعداري فرض نه وه دا عقیده لرونکی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی او په دې باندي دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾

[آل عمران: ٨٥]

او څوک چې داسلام نه غیر بل دین غواړي، نو هیڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي، او دغه کس به په اخرت کې له تاوانیانو دجملې څخه وي.

ددي ایت کریمه نه معلومه شوه چې هرڅوک چې دا عقیده لرې چې ځیني خلک په عبادت او بندګې کې داسې مرتبې ته ورسیږې چې بیا په هغه باندې دنبي کریم ﷺ تابعداري فرض نه وي، لکه څنګه چې په خضر علیه السلام باندي د موسی علیه السلام تابعداري فرض نه وه، دا عقیده لرونکی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی، ځکه چې د نبي کریم ﷺ رسالت او پیغمبري عامه ده ټولو انسانانو او پیریانو عربو او عجمو ته او په ټولو باندي دنبي کریم ﷺ تابعداري فرض او واجب ده، ځکه چې د نبي کریم ﷺ په شریعت او رسالت سره مخکني ټول شریعتونه منسوخ شوي دي: لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾ [الفرقان: ١]

ډیر برکتناک دی هغه ذات چې په خپل بنده یې فرقان (قران) نازل کړی دی، ددي لپاره چې دی دخلکو لپاره ویره ورکونکی شي.

همدغه رنګ الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا﴾ [النساء: ٧٩]

ای نبي ته مونږه دخلکو لپاره رسول لیږلی يي او کافي دی الله تعالی د ګوا ه په حيث. همدغه رنګ الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا﴾ [الأعراف: ١٥٨]

ته ووايه: ای خلکو بيشکه زه ستاسو دټولو په طرف د الله تعالی راليږلی شوی رسول يم.

او دنبي کريم ﷺ فرمان دی:

**«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ يَسْمَعُ بِي أحد من هذه الأمة لا يَهُودِيٌّ، وَلاَ نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كانَ مِنْ أَصْحَابِ النار»**(١).

په هغه ذات قسم کوم، دچا په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، نه رسيږي زما باره کې خبر په دي امت کې هيچا ته، نه يهودي ته، او نه نصراني ته او بيا ايمان نه راوړي په هغه شريعت باندي په کوم چې زه راليږل شوی يم او مړ شي مګر وي به دی داور والا ونه.

همدغه رنګ د نبي کريم ﷺ بل فرمان دی:

**«أعطيت خمسا، لم يعطهن أحد من الأنبياء قبلي» -وذكر منها...- وكان النبي يبعث إلى قومه خاصة، وبعثت إلى الناس عامة.**(٢)

ماته پنځه داسي څيزونه راکړی شوي دي کوم چې زمانه مخکې پيغمبرانو ته نه وو ورکړل شوي،

(١) رواه مسلم من حديث أبي هريرة رضي الله عنه
(٢) متفق عليه من حديث جابر بن عبد الله رضي الله عنه

په دې حدیث کې نبي کریم ﷺ دا ذکر کړی دي - چې مخکنې پیغمبران به خاص یو قوم ته رالیږل کیدل، او زه دقیامت پورې ټولو انسانانو ته د پیغمبر په حیث رالیږل شوی یم.

ددې ایت کریمه نه معلومه شوه چې هرڅوک چې دا عقیده لرې چې ځینې خلک په عبادت او بندګۍ کې داسې مرتبې ته ورسیږې چې بیا په هغه باندې دنبې کریم ﷺ تابعدارې فرض نه وې، لکه څنګه چې په خضر علیه السلام باندې د موسی علیه السلام تابعدارې فرض نه وه، دا عقیده لرونکی کافر او داسلامې ملت نه خارج دی، ځکه چې د نبي کریم ﷺ رسالت او پغمبرې عامه ده ټولو انسانانو او پیریانو عربو او عجمو ته او په ټولو باندې دنبي کریم ﷺ تابعدارې فرض او واجب ده، ځکه چې د نبي کریم ﷺ په شریعت او رسالت سره مخکنې ټول شریعتونه منسوخ شوي دي نو تر قیامت پورې په ټولو انسانانو او پیریانو باندې دنبي کریم ﷺ، تابعدارې فرض او لازم ده، او هر چې موسی علیه السلام وو نو دهغه رسالت او پیغمبرې یواځې دبني اسرائلو لپاره وه، نو ځکه په خضر علیه السلام باندې دموسی علیه السلام تابعدارې فرض نه وه، او بل دا چې خضر علیه السلام دغوره قول مطابق د الله تعالی نبي وو، او دالله تعالی لخوا ورته وحې راتلله، ځکه الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړو چې د خضر علیه السلام څخه ځینې علم زده کړې، لکه دا واقعه الله تعالی په سورت کهف کې بیان کړی ده، او همدارنګه په صحیح بخاري کې هم ددې واقعې تفصیل ذکر دی لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

«قام موسى النبي خطيبا في بني إسرائيل فسئل أي الناس أعلم فقال أنا أعلم فعتب الله عليه إذ لم يرد العلم إليه فأوحى الله إليه أن عبدا من عبادي بمجمع البحرين هو أعلم منك قال يا رب وكيف به فقيل له احمل حوتا في مكتل فإذا فقدته فهو ثم فانطلق وانطلق بفتاه يوشع بن نون وحملا حوتا في مكتل حتى كانا عند الصخرة وضعا رءوسهما وناما فانسل الحوت من المكتل فاتخذ سبيله في البحر سربا وكان لموسى وفتاه عجبا فانطلقا بقية ليلتهما ويومهما فلما أصبح قال موسى لفتاه آتنا غداءنا لقد لقينا من سفرنا هذا نصبا ولم يجد موسى مسا من النصب حتى جاوز المكان الذي أمر به فقال له فتاه أرأيت إذ أوينا إلى الصخرة فإني نسيت الحوت وما أنسانيه إلا الشيطان قال موسى ذلك ما كنا نبغي فارتدا على آثارهما قصصا فلما انتهيا إلى الصخرة إذا رجل مسجى بثوب أو قال تسجى بثوبه فسلم موسى فقال الخضر وأنى بأرضك السلام فقال أنا موسى فقال موسى بني إسرائيل قال نعم قال هل أتبعك على أن تعلمني مما علمت رشدا قال إنك لن تستطيع معي صبرا يا موسى إني على علم من علم الله علمنيه لا تعلمه أنت وأنت على علم علمكه لا أعلمه قال ستجدني إن شاء الله صابرا ولا أعصي لك أمرا فانطلقا يمشيان على ساحل البحر ليس لهما سفينة فمرت بهما سفينة فكلموهم أن يحملوهما فعرف الخضر فحملوهما بغير نول فجاء عصفور فوقع على حرف السفينة فنقر نقرة أو نقرتين في البحر فقال الخضر يا موسى ما نقص علمي وعلمك من علم الله إلا كنقرة هذا العصفور في البحر فعمد الخضر إلى لوح من ألواح السفينة

**فنزعه فقال موسى قوم حملونا بغير نول عمدت إلى سفينتهم فخرقتها لتغرق أهلها قال ألم أقل إنك لن تستطيع معي صبرا قال لا تؤاخذني بما نسيت ولا ترهقني من أمري عسرا فكانت الأولى من موسى نسيانا فانطلقا فإذا غلام يلعب مع الغلمان فأخذ الخضر برأسه من أعلاه فاقتلع رأسه بيده، فقال موسى: أقتلت نفسا زكية بغير نفس قال ألم أقل لك إنك لن تستطيع معي صبرا قال ابن عيينة وهذا أوكد فانطلقا حتى إذا أتيا أهل قرية استطعما أهلها فأبوا أن يضيفوهما فوجدا فيها جدارا يريد أن ينقض فأقامه قالالخضر بيده فأقامه فقال له موسى لو شئت لاتخذت عليه أجرا قال هذا فراق بيني وبينك قال ﷺ: يرحم الله موسى لوددنا لو صبر حتى يقص علينا من أمرهما»**[١].

موسى عليه السلام بني اسرائيلو ته بيان کوو، نو په دي مهال دده نه پوښتنه وکړی شوه چې لوې عالم او پوهه څوک دی؟

موسى عليه السلام وويل لوې عالم او پوهه زه يم، دده داخبره د الله تعالى خوښه نه شوه ځکه چې ده د علم او دپوهې نسبت الله تعالى ته ونه کړه، نو الله تعالى موسى عليه السلام ته وحې وکړه چې په مجمع بحرين ځاې کې زما يو بنده دی هغه ستا نه ډير پوهه دی هغه ته ورشه، موسى عليه السلام وويل ای زما ربه زه به څنګه دهغه ځاي پيدا کړم، نو ورته وويل شو چې دځان سره يو ماهې په پچې کې واخله او چې کله داماهې دپچې نه ورک شو همدغه ځاي دی.

(١) أخرجه البخاري رحمه الله

موسی علیه السلام سره دیو ځوان چې یوشع بن نون دهغه نوم دی روان شول او په پچې کې یې دځان سره ماهي هم واخست روان وو تردې چې یو ځاې ته ورسیدل چې هلته یو لویه کمر وه دهغې په خواکې ویده شول، او ماهي د پچې نه پټ ووت او په سمندر کې یې دسورنګ په څیر لاره جوړه کړه.

موسی علیه السلام او دهغه ملګری حیران شول، یوه شپه او یوه ورځ مزل یې وکړو نو هر کله چې صبا شو، موسی علیه السلام خپل ملګري ته وویل چې دا زمونږ خوراک راوړه یقینا مونږ په دې سفر کې ستړي شو، موسی علیه السلام دمجمع بحرین پوري مزل کولو باندي (دکوم ځاې چې ورته امر شوی وو) ستړتیا محسوسه نه کړه، خو چې کله دهغه ځاي نه تیر شو نو ستړ تیا یې محسوسه کړه، نو دهغه ملګرې ورته وویل: ایا ستا په یاد دي کله چې مونږ دهغه لوې کمر په خوا کې دمه وکړه، نو هلته ماهې سمندر ته وننوت، خو زما نه هیر شو چې تاته یې یاد کړم، موسی علیه السلام وویل: مونږ دهمدغه ځاې په لټون کې یو پس دواړه په خپلو قدمونو واپس قدم په قدم راوګرځیدل هر کله چې دوې هغه لوې کمر ته رواورسیدل، نو هلته یې یو سړی ولید چې خپل ځان یې په کپړه باندي پټ کړی وو (همدغه خضر علیه السلام وو) نو موسی علیه السلام ورباندي سلام واچوو، نو خضر علیه السلام ورته وویل چې دا سلام دې د کوم ځاي نه راوړه، موسی علیه السلام ورته وویل زه موسی یم، خضر علیه السلام ورته وویل هغه د بني اسرائیلو موسی؟

موسی علیه السلام وویل هو، بیا ورته موسی علیه السلام وویل ایا زه ستا تابع شم په دې شرط چې را وښايي ماته هغه علم چې تاته درکړی شوی دی د سمې لارې، خضر علیه السلام ورته وویل ای موسی ته زما سره دصبر کولو توان او طاقت نلرې ځکه چې ماته الله تعالی داسې علم راکړی چې ته دهغې په حقیقت نه پوهیږې، او تاته الله تعالی داسې علم درکړی چې زه په هغې نه پوهیږم!

موسی علیه السلام ورته وویل که دالله تعالی خوښه وې زه صبر کوم ستاسره، او ستا نافرماني به نه کوم، نو دواړه د سمندر په غاړه پایدل روان شول ځکه چې دوې سره کشتۍ نه وه، نو یوه کشتۍ ورباندې راغله، ددې لپاره چې دځان سره په کشتۍ کې سپاره کړې، هغوې خضر علیه السلام وپیژنده نو بغیر د کرایه نه یې له ځان سره په کشتۍ کې سپاره کړل، په دې دوران کې یوه مرغۍ راغله او دکشتۍ په غاړه کیناسته او په بحر کې یې خپله مښوکه ښکته کړه او دوه ټونګې یې ووهلې خضر علیه السلام وویل ای موسی زما او ستا علم دالله تعالی د علم نه په نسبت داسې مثال لرې لکه ددې مرغۍ په مښوکه اوبه او دا لوې سمندر.

بیا په قصد سره خضر علیه السلام په دې رواني کشتۍ کې یوې تختې ته لاس کړ او دکشتۍ نه یې را وویستله موسی علیه السلام ورته وویل دې قوم مونږ بغیر دکرایه نه په کشتۍ کې سپاره کړو، او ته دهغوې کشتۍ خرابوې چې داخلک په اوبو کې ډوب شي؟

خضر علیه السلام ورته وویل ایا تاته ما نه وو ویلي چې ته زما سره صبر نشي کولی، موسی علیه السلام ورته وویل دا ځل ما مه رانیسه زمانه هیر شو، ځکه چې اول ځل خبره دموسی علیه السلام نه هیره شوه، بیا روان شول نو په یو هلک ورتیر شول چې دنورو هلکانو سره یي لوبي کولې، نو خضر علیه السلام دغه هلک دبره طرف دسر نه راونیولو، او سر يي ترینه په لاس سره جدا کړ، موسی علیه السلام ورته وویل تا خو یو داسي نفس قتل کړو چې هغه هیڅ جرم نه وو کړی، او نه يي قتل کړی وو؟! خضر علیه السلام ورته وویل ایا تاته ما نه وو ویلي چې ته زما سره هیڅ کله صبر نشي کولی.

ابن عیینه ویلي چې په دې دویم ځل سره يي ورته تاکید وکړو چې ته صبر نشي کولی، بیا روان شول په یو کلي ورغلل او دکلیوالو نه يي د خوراک غوښتنه وکړه، خو هغوی د دوی دمیلمستیا نه انکار وکړو، او دوی دهغوی یو دیوال ولید چې راغورځیده، نو خضر علیه السلام هغه دیوال ته په لاس اشاره وکړه او هغه دیوال يي سیده کړو، موسی علیه السلام ورته وویل: که ستا خوښه وې نو په دې دیوال سیده کولو باندي به دې مزدوري اخستی وی! خضر علیه السلام ورته وویل: دا زما او ستا په مینځ کي د بیلتون وخت دی.

نبي کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالی دي په موسی علیه السلام رحم وکړي که لږ صبر يي کړی وی، چې مونږ ته دهغوی نور کارونه هم بیان شوی وی.

ددي حديث نه هم معلومه شوه چې په خضر عليه السلام باندې د موسی عليه السلام تابعدارې واجب نه وه ځکه چې خضر عليه السلام د بني اسرائيلو نه نه وو، او موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته د پيغمبر په حيثيت راغلی وو.

نو هر څوک چې دا ګمان کوې چې د نبي کريم ﷺ په امت کې داسي بندګان شته چې په هغوې باندې دنبي کريم ﷺ تابعدري فرض او واجب نه ده، دا سي عقيده لرونکې کافر دی او دده دکفر دوه دليله دي:

لمړي دليل: هغه دادی چې دنبي کريم ﷺ رسالت او پيغمبري ټولو انسانانو او پيريانو ته عامه ده، او د موسی عليه السلام رسالت او پيغمبري يواځې دبني اسرائيلو دپاره وه، نو ځکه خضر عليه السلام باندي د موسی عليه السلام تابعداري فرض نه وه، او هر چې مونږ يو په مونږ ټولو باندي د نبي کريم ﷺ تابعداري فرض ده.

دويم دليل: هغه دادی چې خضر عليه السلام دغوره قول په بنا دالله تعالی نبي وو او وحې ورته کيده، نو ځکه ورباندي دموسی عليه السلام تابعداري فرض نه وه چې دهغه خپل شريعت وو، او دموسی عليه السلام خپل شريعت وو، او هر چې دنبي کريم ﷺ امت دی په دوې ټولو باندي د نبي کريم ﷺ تابعداري فرض ده، او که څوک دا عقيده لري چې ځينې خلکو باندي دنبي کريم ﷺ تابعداري فرض نه ده او کولی شي چې د الله تعالی عبادت او بندګې وکړې په بله يوه طريقه باندي نو دا سړې کافر او داسلامي ملت نه خارج دی او په دې باندي دټولو مسلمانانو اتفاق

دی، ځکه چې د نبي کريم ﷺ رسالت او پيغمبري ټولو انسانانو او پيريانو دپاره عامه ده.

هر څوک چې دا عقيده لري چې نبي کريم ﷺ يواځې عربو ته د پيغمبر په حيثيت راغلی وو، نو دا عقيده لرونکی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی، ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:

**«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّد بيَدِه، لاَ يَسْمَعُ بِي أحد من هذه الأمة لا يَهُودِيٌّ، وَلاَ نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كانَ مِنْ أَصْحَابِ النار»**[1].

په هغه ذات قسم کوم، دچا په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، نه رسيږي زما باره کې خبر په دي امت کې هيچا ته، نه يهودي ته، او نه نصراني ته او بيا ايمان نه راوړي په هغه شريعت باندي په کوم چې زه راليږل شوی يم او مړ شي مگر وي به دی داور والا ونه.

(١) رواه مسلم من حديث أبي هريرة رضي الله عنه



## الناقض العاشر

# الإعراض عن دين الله لا يتعلمه ولا يعمل به

د اسلام په نواقضو کې لسم ناقض: د الله تعالی د دین نه اعراض او مخ اړول دي، هغه داسي چې نه د الله تعالی د دین تعلم (زده کړه) کوي او نه دالله تعالی په دین باندي عمل کوي، او په دي باندي دلیل د الله تعالی دا وینا ده:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾ [السجدة: ٢٢]

څوک دی لوې ظالم دهغه چا نه چې هغه ته د رب په ایتونو سره پند ورکړی شي، بیا هغه د دغه ایتونو نه مخ وګرځوي بیشکه مونږ د مجرمانو نه انتقام اخستونکي یو.

**وضاحت:**

د اسلام په نواقضو کې لسم ناقض: د الله تعالی ددین نه اعراض او مخ اړول دي، هغه داسي چې نه د الله تعالی د دین تعلم (زده کړه) کوي او نه دالله تعالی په دین باندي عمل کوي، او نه دالله تعالی عبادت او بندګي کوي نو دا اعراض کونکی کافر دی ځکه چې نه د الله تعالی دین زده کوي او نه په هغې باندې عمل کوي او نه دالله تعالی عبادت او

بندګې کوې، نو بیشکه په دې حال کې دا دشیطان بندګې کوی وې، او دشیطان بندګې کونکی کافر دی.

ځینې خلک د دین څخه بې پرواه وې نه دالله تعالی دین زده کوې او نه په هغې باندې عمل کوې او نه دالله تعالی عبادت او بندګې کوې، نو په حقیقت کې داسې کس د شیطان عبادت او بندګې کوې ځکه شیطان ورته دا بې دینې ښایسته کړې وې او دا دشیطان بندګې کوې، ځکه چې په دنیا کې دوه قسمه بندګان وې یو قسم هغه بندګان وې چې د الله تعالی عبادت او بندګې کونکي وې، او بل قسم هغه بندګان دي چې هغوې دشیطان بندګې کوې، نو څوک چې دالله تعالی بندګې نه کوې حقیقت کې هغه دشیطان بندګې کوې هر هغه څوک چې دالله تعالی د دین نه بې پرواه وې نه د الله تعالی دین زده کوې، او نه په دین باندې عمل کوې، او نه د الله تعالی عبادت او بندګې کوې، او نه په الله تعالی باندې ایمان لرې، نه لمونځ کوې، او نه دا عقیده لرې چې الله تعالی د ټولو کائناتو خالق او رازق او نظام چلونکی دی، نو بیله شکه دا کس کافر دی. لکه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾

څوک دی لوې ظالم دهغه چا نه چې هغه ته د رب په ایتونو سره پند ورکړی شي، بیا هغه د دغه ایتونو نه مخ وګرځوې بیشکه مونږ د مجرمانو نه انتقام اخستونکي یو.

همدغه رنګ الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ﴾ [الكهف: ٥٧]

او دهغه کس نه لوي ظالم څوک دی، چې ده ته دخپل رب په ایتونو سره نصیحت ورکړی شې، نو دی دهغو نه مخ واړوې، او هغه عملونه هیر کړې کوم چې دده لاسونو لیږلې دي.

همدغه رنګ دالله تعالی دا فرمان:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَمَّآ أُنذِرُوا۟ مُعْرِضُونَ﴾ [الأحقاف: ٣]

او کافران دهغه قران نه چې دوې ته ورباندې ویره ورکولی شې مخ ګرځونکي دي.

ددې ایتونو معلومه شوه چې دالله تعالی د دین نه اعراض او مخ اړول کفر دی.

پاملرنه: هغه نواقض د اسلام چې مخکې بیان شول ددې په ارتکاب سره انسان د اسلامي ملت نه خارجیږې برابره خبره که قصدا ددې ارتکاب وکړې، او یا په مزاح او ټوقې سره او یا د ویرې د وجې ددې نواقضو ارتکاب وکړې په دې ټولو حالاتو کې دا انسان د ملت اسلامې نه خارجیږې، مګر په حالت د اکراه اوجبر کې بیا انسان معذور وې خو په دې شرط چې زړه یې په اسلام مطمئن وې.

**وضاحت:**

مصنف رحمه الله وفرمایل: چې ددې نواقضو په ارتکاب سره انسان

د اسلامي ملت نه خارجیږي برابره خبره که قصدا ددي ارتکاب وکړي، او یا په مزاح او ټوقې سره او یا د ویري د وجې ددې نواقضو ارتکاب وکړي په دې ټولو حالاتو کې دا انسان د ملت اسلامي نه خارجیږي، مګر په حالت د اکراه اوجبر کې بیا انسان معذور وي خو په دې شرط چې زړه يي په اسلام مطمئن وي.

ددي مثال: لکه يو څوک قصدا په لمانځه پوري ټوقې او استهزاء وکړي، یا په مزاح او ټوقې سره په لمانځه پوري استهزاء وکړي، نو په دې دواړو حالاتو کې دا سړی کافر او داسلامي ملت نه خارج دی، همدغه رنګ هغه څوک هم کافر کیږي چې په خپل مال یا بچو باندې ویریږي او د اسلام ددي نواقضو ارتکاب وکړي ددي وجې نه چې خپل مال او بچي محفوظ وساتي خو په دې شرط چې دده دا ویره داکراه او جبر حالت ته نه وي رسیدلې، او که دده دا حالت اکراه ته ورسیده نو بیا نه کافر کیږي په دې شرط چې په ژبه خو د کفر کلمه وايي خو زړه يي په اسلام او ایمان مطمئن وي.

په لنډه توګه ددي مسئلې په اړوند دیو کس پنځه حالتونه دي دهغې لنډ وضاحت دادی:

- لمړی حالت: هرڅوک چې د اسلام د نواقضو (کفر) ارتکاب وکړي په ټوقې او مزاح سره ددي حکم دادی چې دا کافر او داسلامي ملت نه خارج دی.
- دویم حالت: هرڅوک چې د اسلام د نواقضو (کفر) ارتکاب

وکړې په قصد او رښتيا سره ددي حكم دادی چې دا كافر او داسلامي ملت نه خارج دی.

- دريم حالت: هرڅوک چې د اسلام د نواقضو (كفر) ارتكاب وکړې د ويرې د وجې نه ددي حكم دادی چې دا كافر او داسلامي ملت نه خارج دی.

- ځلورم حالت: هرڅوک چې د اسلام د نواقضو (كفر) ارتكاب وکړې په حالت داكره او جبر كې اوخپل زړه هم كفر ته مايله كړې ددي حكم دادی چې دا كافر او داسلامي ملت نه خارج دی.

- پنځم حالت: هرڅوک چې د اسلام د نواقضو (كفر) ارتكاب وکړې په حالت داكراه او جبر كې خو زړه ددي مطمئن وي په اسلام باندي ددي حكم دادی چې په دې حالت كې نه كافر كيږې، نو ټول پنځه حالتونه شول، په څلورو حالتونو كې كافر كيږې او داسلامي ملت نه خارجيږې، او په يو حالت كې نه كافر كيږې چې هغه حالت داكراه او جبر دی بيا حالت داكراه او جبر ديته نه وايي چې يواځې د قتل ګواښ ورته وكړی شي بلكه حالت داكراه او جبر ديته وايي چې توره يا اسلحه يي ورته په سر ايښې وي او كه چيرې دكفر كلمه ونه وايي نو قتل دهغه يقيني وي، ديته حالت دجبر او اكراه وايي او په دې حالت كې كه چيرې دا سړی د كفر كلمه ووايي نه كافر كيږې، او په دې باندي دليل د الله تعالى دا وينا ده:

﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ ﴾ [النحل: ١٠٦]

هغه څوک چې کافر شو په الله تعالی سره د ایمان راوړلو نه پس (په هغه دالله تعالی غضب دی او دهغه لپاره درد ناک عذاب دی) غیر د هغه کس نه چې زور وکړی شي په هغه باندې په دې حال کې چې دهغه زړه په ایمان سره مطمئن وي.

په دې ایت کریمه کې الله تعالی هغه چا ته وعید او ویره ورکوې څوک چې د ایمان نه وروستو کفر کوي مګر هغه څوک ددې نه مستثنی (بیل) دی چې اکراه زور او جبر ورباندې وکړې شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ ﴾

غیر د هغه کس نه چې زور وکړی شي په هغه باندې په دې حال کې چې دهغه زړه په ایمان سره مطمئن وي.

ددینه وروستو بیا الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ [النحل: ١٠٦-١٠٧]

او لیکن هغه څوک چې په کفر سره خپله سینه فراخه کړې نو په دغه خلکو باندې د الله تعالی لخوا غضب دی او د دوې لپاره ډیر لوې عذاب دی.

دا په سبب د دې چې دوې دنیا وې ژوند په اخرت باندې غوره کړې دی او بیشکه الله ته تعالی کافر قوم ته هدایت نه کوې.

ددې ایتونو نه واضحه معلومه شوه چې په کافرانو باندې د الله تعالی غضب دی او دهغوې لپاره لوې او درد ناک عذاب تیار دی.

او ورسره ددې خبرې وضاحت هم وشو چې دا کوم نواقض د اسلام چې مخکې ذکر شو ددې ارتکاب کول قصد (په خوښې) سره یا په ټوقې سره، یا د ویرې د وجې نه په دې ټولو حالتونو کې دا کفر دی او ددې مرتکب کافر او داسلامي ملت نه خارج دی، یواځې یو حالت د اکراه هغه مستثنی دی.

نو هر مؤمن باید دخپل ایمان او دخپلې عقیدې ساتنه وکړې او داسلام ددې نواقضو نه په کامله توګه خپل ځان وساتي.

د الله تعالی نه سؤال کوو چې زمونږ ساتنه وکړې او مونږ ته سلامتیا را په برخه کړې! او مونږ د اسلام په دین باندې همیشه او ثابت قدمه وساتې! او مونږ ته مرګ هم په دین اسلام باندې راپه برخه کړې! او دالله تعالی نه دعا کوو چې مونږ د ټولو فتنو نه مونږ په خپل حفظ او امان کې وساتي ځکه چې الله تعالی په دې باندې قادر او ددې لائق دی.

وصلی الله وسلم علی عبد الله ورسوله نبینا محمد وعلی آله وأصحابه والتابعین.





IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٠٠٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٠٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧
ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH
P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

**Download from:aghalibrary.cm**

# د اسلام نواقض او دخلکو پوهاوی

د الله پاک په نعمتونو کې دین اسلام هغه نعمت دی چې نور ټول نعمتونه په کې راجمع شوي دي، ددې دپاره چې دا ښکلی نعمت سلامت پاتې شي، د هغه کارونو پیژندل ضروري او لازم دي کوم چې ددې نعمت سره متضاد دي، او دېته نواقض اسلام هم وایي کوم چې په دې کتاب کې تفصیلي ذکر شوي دي تاسو کولی شئ چې ددې کتاب په لوستلو سره د هغې تفصیل معلوم کړئ.




IslamHouse.com